امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲ الی ۷ حوت ۱۴۰۴

شماره یکصدو چهل و چهارم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام (UNDP) له رئیس، ستیفن روډریګز، د اقلیم بدلون د برخې له مرستیال، نجیب‌الله یوسفي او د دې پروګرام له ستر تخنیکي متخصص، سید آصف محمدي سره موخه د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کېدو پر څرنګوالي یې خبرې او د نظر تبادله وکړه.

په دې لیدنه کې محترم ترابي صاحب وویل، د اقلیم بدلون اغېزو...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ایډ موسسې ترمنځ د (۱۴۵,۲۳۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغان ایډ مؤسسې له عمومي رئیس چالس ډیوي سره د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه وکتل او د ګډو...

ادامه در صفحه ۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې ۲۶۴ مستحقو کورنیو ته د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د دې ادارې په انګړ کې ۲۶۴ مستحقو کورنیو ته د روژې مبارکې میاشتې مرستو ترسرلیک لاندې ...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د آذربایجان هېواد د بېړنیو حالاتو وزارت ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا په موخه آنلاین غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنیکي کمېټې مسؤل محترم برهان‌الدین شینواري او د ماین پاکۍ چارو ستر سلاکار محترم ډاکټر ایمل صافی او د آذربایجان هېواد د بېړنیو حالاتو وزارت مسؤلینو ترمنځ د همکاریو...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام (UNDP) له رئیس، سټیفن روډریګز، د اقلیم بدلون د برخې له مرستیال، نجیب‌الله یوسفي او د دې پروګرام له ستر تخنیکي متخصص، سید آصف محمدي سره موخه د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه وکتل او د پروژو د پلي کېدو پر څرنګوالي یې خبرې او د نظر تبادله وکړه.

په دې لیدنه کې محترم ترابي صاحب وویل، د اقلیم بدلون اغېزو او ناڅاپي ورښتونو ته په کتو، هېواد د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوی او د بېلابېلو پروژو پلي کېدو ته اړتیا لري. نوموړي زیاته کړه چې د سیلابي‌لارو د پاکولو او په ټولو ولایتونو کې د استنادي او ګبیوني دېوالونو د جوړولو چارې پیل شوې دي، تر څو د سیلابونو له ګواښونو څخه مخنیوی وشي. هغه ټینګار وکړ چې هغه بودجه چې د تمویل کوونکو له لوري افغانستان ته ځانګړې کېږي، باید په اغېزمن ډول ولګول شي؛ له همدې امله د لومړیتوبونو لړلیک ترتیب او مرستندویه بنسټونو ته سپارل شوی دی، تر څو خپل پروګرامونه د لړلیک له مخې تنظیم کړي.

د ادارې لوی رئیس همداراز وویل چې د دې ادارې اصلي تمرکز پر بنسټیزو او وقایوي پروژو دی، څکه په کمه بودجه د لویو زیانونو مخه نیول کېدای شي، او د ملګرو ملتونو له پراختیايي پروګرام څخه یې وغوښتل چې په دې برخه کې همکاري او کار وکړي.

په ورته وخت کې، د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام رئیس، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې عملي اقدامات وستایل او څرګنده یې کړه چې یاد بنسټ غواړي د پېښو د مدیریت په برخه کې همکارۍ پراخې کړي. هغه وویل چې تل یې ټینګار کړی چې د پېښو سکتور ته، چې د خلکو له ژوند سره مستقیم تړاو لري، باید ځانګړې بودجه پرته له کومې  سیاسې ملاحظې په پام کې ونیول شي. نوموړي زیاته کړه چې د دوی په ټولو پروژو کې به د عامه پوهاوي د لوړولو برخه هم شامله وي.

همداراز نوموړي وویل چې د دواړو ادارو ترمنځ د همغږۍ د پیاوړتیا او د پروژو د ښه پلي کېدو لپاره به یو همغږۍ کوونکی  د پېښو په اداره کې وګمارل شي  ، او اړتیا ده چې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام تخنیکي ټیمونه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مابین‌پاکۍ چارو له مسؤلینو سره د همکارۍ د پراختیا په موخه ناسته ترسره کړي.

په پای کې، دواړو لوریو پر بنسټیزو پروژو د لا زیات تمرکز او د پېښو د خطرونو پر کمولو ټینګار وکړ، او د ترابي صاحب له لوري مخکې له مخکې چمتو شوې ډالۍ ښاغلي سټیفن رودریګز ته وسپارل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ایډ موسسې ترمنځ د (۱۴۵,۲۳۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغان ایډ مؤسسې له عمومي رئیس چالس ډیوي سره د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې ترابي صاحب ټینګار وکړ چې د بشري مرستو او عامه پوهاوي ترڅنګ باید پر بنسټیزو او وقایوي پروژو زیات تمرکز وشي، څکه د لړې بودجې په وسیله د سترو خطرونو مخه نیول کېدای شي.

ورته مهال، د افغان ایډ مؤسسې عمومي رئیس د پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې د دې پروژې بودجه د همدې مؤسسې له لوري تمویلېږي او ژمنه یې وکړه چې په ټاکلي وخت کې به یې پلي کړي.

په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ یو سل او پنځه څلویښت زره او دوه سوه او پنځه دېرش (۱۴۵,۲۳۵) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې به د غور ولایت د ساغر ولسوالۍ په ۲۴ کلیو کې لومړی ۲۴ تنه سرګروپان وروزل شي او د هغوی له لارې به ۱۲۰ نورو کسانو او کورنیو ته مسلکي روزنې ورکړل شي. وروسته به د اقلیمي بدلون د پروژو تر چتر لاندې، د خلکو د غوښتنو په پام کې نیولو سره بېلابېلې پروژې پلي شي، چې د کرنیزو تخمونو او کرنیز وسایلو وېش، د اوبو کوچنۍ ودانیزې پروژې، د اوبو بسترونه او نورې اړوندې پروژې په کې شاملې دي، چې د خلکو په ګډون به پلي کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې ۲۶۴ مستحقو کورنیو ته د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د دې ادارې په انګړ کې ۲۶۴ مستحقو کورنیو ته د روژې مبارکې میاشتې مرستو ترسرلیک لاندې د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه د خوراکي توکو مرستې ووېشل شوې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۲۵ کیلویي اوړه، یوه بوری ۱۰ کیلویي وریجې، ۵ لیټره غوړي، درې کیلو بوره او ۱ کیلو توري چای ووېشل شو.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او له اړوندو مسؤلینو څخه یې مننه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د آذربایجان هېواد د بېړنيو حالاتو وزارت ترمنځ د دوه‌اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا په موخه آنلاین غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنيکي کمېټې مسؤل محترم برهان الدين شينواري او د ماين پاکۍ چارو ستر سلاکار محترم ډاکټر ايمل صافی او د آذربايجان هېواد د بېړنيو حالاتو وزارت مسؤلينو ترمنځ د همکاريو د پياوړتيا او د تجربو د شريکولو په موخه د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه آنلاين غونډه ترسره شوه.

په دې آنلاين ناسته کې دواړو لوريو د پېښو او بېړنيو حالاتو پر مهال د همکاريو د ځرنګوالي، د تجربو د شريکولو او د دې ادارې د لټون او ژغورنې ټيمونو د روزنې په اړه خبرې وکړې.

د آذربايجان لورې په دې غونډه کې د پېښو پر مهال د خپلو موخو، فعالو برخو، کړنلارو، ميکانيزمونو او کاري لارو چارو په اړه خبرې وکړې او خپلې تجربې يې شريکې کړې.

همدارنګه، د دې ادارې د تخنيکي کمېټې مسؤل د هغوی له معلوماتو څخه د مننې ترڅنګ، د ظرفيت لوړولو، عامه پوهاوي، طبيعي پېښو ته بېړنۍ رسېدنې او همدارنګه د ماين پاکۍ‌چارو په برخه کې پر دوه‌اړخيزو همکاريو ټينګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس د ميدان وردګ ولايت له مرستيال والي او امنيه قومندان سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د ميدان وردګ ولايت له مرستيال والي، محترم مولوي محمد فريد قيام او د ياد ولايت د امنيه قومندان، محترم مولوي عبدالقيوم هلال سره د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۴ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په پيل کې ترابي صاحب د ميدان وردګ ولايت راغلو مسؤلينو  ته د ښه راغلاست ترڅنګ د ميدان وردګ ولايت د خلکو د ستونزو او اړتياوو په اړه په خپلو خبرو کې وويل، چې هر کال په ياد ولايت کې بېلابېلې طبيعي پېښې رامنځته کېږي نو اړينه ده ترڅو په ياد ولايت کې د لومړيتوبونو له مخې وقايوي پروژې پلې شي او دا اداره تل هڅه کوي چې هم له خپلې بودجې او د همکارو موسسو له لارې خلکو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي، هغه زياته کړه چې دا اداره ژمنه ده چې په ټول هېواد کې مستحقو خلکو ته پر وخت رسېدنه وکړي او په ټولو ولايتونو کې د طبيعي پېښو د خطرونو کمولو لپاره له همکارو موسسو سره په ګډه فعاليتونه ترسره کوي.

د ميدان وردګو ولايت راغلو مسؤلينو د يادې ناستې قدرداني وکړه او ويې ويل چې دا ولايت د جغرافيايي موقعيت له امله هر کال له بېلابېلو طبيعي ګواښونو سره مخ وي، نو وقايوي پروژې د خلکو حياتي اړتيا ده. نوموړي ژمنه وکړه چې ولايتي اداره به د ځمکو د تثبيت، تخنيکي همغږۍ په برخه کې بشپړه همکاري وکړي،تر څو پروژې په شفاف او اغېزمن ډول عملي سي.

په پای کې دواړو لوريو د خلکو ستونزو او اړتياوو ته د رسېدنې او د پېښو مديريت په فعاليتونو کې د همکاريو او همغږۍ پر پياوړتيا ټينګار وکړ.


## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۸ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندې لازم تصمیمونه ونیول سول.




## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۹۲ مستحقو او زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې او د نه آنلوس مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست د یادې موسسې په ملاتړ او له شته امکاناتو په ګټې اخیستنې سره، له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۹ نېټه په کابل ښار کې ۹۲ مستحقو او زیانمنو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

په دې لړ کې د کابل ښار ۱۶مې ناحیې ۶۴ مستحقو کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ ډالر ووېشل شول، چې ټولټال شپږ زره او څلور سوه ( ۶,۴۰۰) ډالر نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

همدارنګه د یاد ولایت اړوند ۲۸ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته له شته امکاناتو په ګټې اخیستنې سره، یوه بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، یوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، یوه بسته د جامو ژمنی کېټ، یوکارټن روغتیایي کېټ او اووه جوړه نارینه او ښځینه بوټان ووېشل شول.

د مرستو ترلاسه کوونکو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د خلکو اړتیاوو ته پروخت د رسېدنې او مرستو له امله خوښي څرګنده کړه.


## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام په همغږۍ او د قطر د امیر دیوان د شیخ خالد ابو شاهین الغانم خیریه بنسټ په مالي ملاتړ، د دې ولایت اړوند ۹۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۹ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵ لیتره غوړي، ۱ من لوبیا، ۱ من نخود، ۳.۵ کیلو دال، ۵ کیلو بوره، ۱ کیلو شین چای، ۲ قوطۍ خرما، ۱ بسته مالګه، یو پاکټ شیریني او دوه قوطۍ مایچه ووېشل شول.



# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۷،۸۵۹ خانواده مستحق کمک‌های نقدی و غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه SFL که تمویل‌کننده این پروژه برنامه جهانی غذا (WFP) می باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره، پس از سروی، بتاریخ ۸ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۷،۸۵۹ خانواده مستحق در نواحی مختلف شهر مزارشریفِ مرکز آن ولایت، کمک‌های نقدی و غذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲،۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع بیست‌ودو میلیون و هفتصد و نودویک هزار و یک‌صد (۲۲،۷۹۱،۱۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود. همچنان از میان این خانواده‌ها، به هر خانواده دارای زنان باردار و کودکان، ۱.۵ کیلو پلمپی و ۲ کیلو سوپر سِریل توزیع شد.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳,۵۲۸ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې





له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د مرکز ایبک ښار ۳,۵۲۸ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۸ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال لس میلیونه او دوه سوه او یو دېرش زره او دوه سوه (۱۰,۲۳۱,۲۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶,۲۴۷ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د مرکز او بېلابېلو ولسوالیو ۶,۲۴۷ مستحقو کورنیو ته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۶ نېټه نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اتلس میلیونه او یو سل او شپاړس زره او درې سوه (۱۸,۱۱۶,۳۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.



## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د شهیدانو او ټپیانو یوې کورنۍ ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت له محترم مقام سره په همغږۍ یوې کورنۍ ته چې د ګاز ډبې د چاودنې له امله په کې ۱۱ تنه شهیدان او ۳ تنه په کې ټپیان شوي وو د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۵ نېټه نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې د مسؤلینو په شتون کې دې کورنۍ ته د ۱۱ تنو شهیدانو څخه د هر شهید په سر ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او د ۳ تنو ټپیانو څخه د هر ټپي په سر ۱۰۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال دوه سوه پنځوس زره (۲۵۰،۰۰۰) افغاني کېږي نغدي پیسې د یادې کورنۍ لپاره ځانګړې شوې وې. همدارنګه یادې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، دوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، دوه بوتله ۵ لیتره غوړي، یوکارټن د پخلنځي کېټ، یو د ژمنیو جامو کېټ، پنځې تختې کمپلې، پنځه تختې توشکې له بالښتانو سره، یوکارټن روغتیایي کېټ، یوکارټن کاغذي دستمال، دوه جوړه نارینه او ښځینه کارول شوې جامې، ۱۲ کلچې د لاس وینځلو صابون او ۱۲ پاکټه د کانفلور اوړه ووېشل شول.

د یادولو وړه ده، چې په وروستیو کې د مرستو ترلاسه کوونکو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست دوی ته پروخت د رسېدنې او مرستو له امله خوښي څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز برای ۳۵۰ خانواده کمک‌های خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز، برای ۳۵۰ خانواده مهاجر، مستحق و نیازمند در ولسوالی‌های چهاردره، گلتپه و علی‌آباد آن ولایت بتاریخ ۶ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسئولان، به هر خانواده ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی توزیع گردید.

مستفیدشوندگان ضمن ابراز قدردانی از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز، خواستار تداوم چنین کمک‌ها در آینده شدند.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷۱ مستحقو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۲۷۱ بېوزله او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۴ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې ۲۷۱ کورنیو ته ۳۰۰ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۳۰۵ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۲۱۶ تختې رجایي، د ماشومانو لپاره ۱۰۷ کېټونه، ۲۱ عدد نارینه جمپرونه، ۶۶ باب خیمې، ۶۸ عدد ښځینه جمپرونه، ۶۵ تختې کمپلې، ۴۳ جوړه د ماشومانو جامې او ۱۵ لیتره غوړي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۵۰۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO که تمویل‌کننده این پروژه برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۴ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۵۰۰ خانواده مستحق در ولسوالی فیروزنخچیر آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان ۵۰ کیلوگرام آرد، ۶.۲۵ کیلوگرام نخود، ۴.۵۵ لیتر روغن، نیم کیلوگرام نمک و ۱.۵ کیلوگرام پلمپی توزیع گردید.

## د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د ماين پاکۍ د انسجام او همغږۍ رياست له بېړنۍ شمېرې (0708606060) سره د ښاريانو د اړيکې پر بنسټ، د HALO Trust د ماين پاکي مؤسسې د چټک غبرګون ټيم (HT-EOD-01) د ماين‌پاکۍ د عملياتو په موخه د کندهار ولايت د ارغستان ولسوالۍ د کلاچې کلي ته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۵ نېټه واستوو.

ياد ټيم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست سره په همغږۍ په کندهار ولايت کې خپل کار پيل کړ، د ماين پاکۍ عملياتو په ترڅ کې يو عدد ناچاوده هوايي بمب کشف او په خوندي توګه يې له منځه يووړ.

د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګي رياست له خلکو غوښتنه کوي چې د هر ډول چاودېدونکو او شکمنو توکو د ليدو په صورت کې دې ژر تر ژره له اړوند مسؤلينو سره اړيکه ونيسي، تر څو يې د له منځه وړلو لپاره پر وخت اړين اقدامات ترسره شي.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۶۵۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO، که تمویل‌کننده این پروژه برنامه جهانی غذا می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت مؤسسه متذکره، پس از سروی، بتاریخ ۵ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۶۵۰ خانواده مستحق در ولسوالی دهنه‌غوری آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده ۲ بوجی آرد ۲۵ کیلویی، ۶.۲۵ کیلو دال نخود، ۵ لیتر روغن و نیم کیلو نمک توزیع گردید. همچنان برای هر خانواده دارای کودک، مواد غذایی مکمل (پلمپی) نیز توزیع شد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۶ مستحقو کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدې مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او د RRDPO مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت د بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۰۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۵ نېټه نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د IOM سازمان له لورې ۱۳۲ کورنیو هرې یوې ته ۸,۵۰۰ افغانۍ، یو عدد د کور جوړولو یا ترمیم د وسایلو کېټ او همدارنګه له یادې جملې ۷۵ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې یوې ته یو باب خیمه او د RRDPO مؤسسې له لورې چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، ۷۴ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلوګرامه اوړه، ۹.۱ کیلوګرامه غوړي، ۱۲.۵ کیلوګرامه دال، ۱ کیلوګرامه مالګه، سوپر سریل او مغزي حلوا ووېشل شول.
د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، IOM سازمان او د RRDPO موسسې څخه د مننې ترڅنګ هیله څرګنده کړه چې دا ډول مرستې دې دوام ومومي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۳,۰۴۳ خانواده مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه هنگری، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت موسسه متذکره، بتاریخ ۵ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۳,۰۴۳ خانواده در ولسوالی های خان‌چهارباغ و قرمقول مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این پروسه با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ هشت میلیون هشت صدو بیست‌و چهار هزارو هفت صد (۸,۸۲۴,۷۰۰) افغانی برای این‌تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای ۱۸ ورثه شهید مساعدت نقدی توزیع کرد




به هدایت رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات، برای ۱۸ ورثه شهید که اعضای خانواده های‌شان از اثر حوادث طبیعی اخیر جان باخته بودند، بتاریخ ۶ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسئولان، به هر یک از ورثه شهید مبلغ ۲۰,۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع سه صد و شصت هزار (۳۶۰,۰۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص داده شده بود.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په مرکز کې د خوړ پاکولو چارې بشپړې کړې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د مرکز ترینکوټ په دوو سیمو کې د ۳۹,۶۰۰ افغانیو په لګښت د ۵۰۰ متره په اوږدوالي او ۳ متره پلنوالي د یو خوړ د پاکولو چارې د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۵ نېټه بشپړې کړې.

د خوړ د پاکولو موخه د سیلابي اوبو د تېرېدو لار برابرول، د سیلاب له خطر څخه د کرنیزو ځمکو او شاوخوا سیمو د هستوګنیزو کورونو خوندي کول و، چې د خوړ پاکولو د کار په بشپړېدو سره نږدې ۲۰۰۰ جریبه کرنیزې ځمکې او ۳۰۰ کورونه د سیلابونو له مستقیم خطر څخه خوندي شول.

ځایي اوسېدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له دې کار څخه خوښي ښکاره کړه او له مسؤلینو یې مننه او قدرداني وکړه.

## په کندز ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول




د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د MCPA مؤسسې د همغږۍ له مخې، د یادې مؤسسې د چټک غبرګون دوهم ټیم په ملاتړ، د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۶ نېټه د دې ولایت په مرکز کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي بېلابېل چاودېدونکي توکي کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل.

د یادو عملیاتو په پایله کې، ۹ عدده د هاوان مرمۍ، ۱۸ بېلابېل ډوله راکټونه چې BM 41 او BM21 راکټونو هم پکې شتون درلود او ۶ عدده ارتیلر کشف او په خوندي ډول له منځه یوړل شول.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین وایي چې له جګړو پاتې چاودېدونکي توکي تل د خلکو، په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره جدي ګواښ جوړوي، له همدې امله د دې توکو د پېژندنې، راټولولو او د پاکولو لپاره په دوامداره توګه هڅې روانې دي.

## په کونړ ولایت کې د لوېدو له خطر سره مخ لویه ډبره په خوندي ډول له منځه یوړل شوه



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، هغه لویه ډبره چې د ښوییدو په حالت کې وه او د کونړ ولایت په ډانګام ولسوالۍ کې یې شاوخوا ۲۰ هستوګنیز کورونه له جدي خطر سره مخ کړي وو، د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۶ نېټه په خوندي ډول وېجاړه کړه.

د یادونې وړ ده چې د دې ډبرې د وېجاړولو چارې د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست تر څارنې لاندې او دCWSA مؤسسې په مالي ملاتړ ترسره شوې.

د دې وقایوي اقدام په بشپړېدو سره یاد هستوګنیز کورونه د ډبرې د احتمالي لوېدو له خطره خوندي شول او د یوې ناوړه پېښې مخه ونیول شوه.

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت په کچه د طبیعي پېښو خطرونو د پېژندنې، ارزونې او کمولو په موخه د خپلو هڅو پر دوام ژمن دی.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۱۰۳ کورنیو ته خوراکي او نغدې مرستې ووېشلې



د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټیکا او د افغان د ټولنیزو خدمتونو (WASSA) موسسو په ملاتړ، د دې ولایت په مرکز قلعه نو ښار کې ۲,۱۰۳ مستحقو کورنیو ته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۷ نېټه خوراکي او نغدې مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د WASSA موسسې له لوري ۱۸۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۲,۹۰۰ افغانۍ او له یادې جملې ۲۵۹ کورنیو ته چې ماشومان یې درلودل هرې کورنۍ ته ۳۰ عدده قهوه او امیندوارو مېرمنو لرونکو ۵۳۷ کورنیو هرې یوې ته درې کیلو د حلوا اوړه او همدارنګه د ټیکا موسسې له لوري ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته یوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۱۰ کیلو وریجې، ۲ کیلو نخود، ۲ کیلو لوبیا، ۱ کیلو تورچای، ۱ کیلو شین چای، ۵ پاکټه مکروني او ۴ کیلو بوره ووېشل شوه.


## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۱ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRDPO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک پر بنسټ، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ د دې ولایت د مرکز اړوند ۴۱ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۸ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې چې د مسؤلینو په شتون کې ترسره شو، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلوګرامه اوړه، ۹.۱ کیلوګرامه غوړي، ۱۲.۵ کیلوګرامه دال، ۱ کیلوګرامه مالګه، سوپر سریل او مغزي حلوا ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱۱,۵۸۶ فامیل مساعدت نقدی و غذایی توزیع شد



به اساس تفاهم نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و دفتر هنگری، ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی موسسه متذکره، در سه ولسوالی ولایت فاریاب برای ۱۱,۵۸۶ خانواده بتاریخ ۷ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق مساعدت نقدی و خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع شد که د مجموع پنج‌میلیون‌و شش صدو نودو هزارو هفت صد(۵,۶۹۲,۷۰۰) افغانی اختصاص یافته بود. همچنان برای ۹۶۲۳ خانواده در ولسوالی های دولت آباد و شیرین تگاب کمک‌های غذایی به هر خانواده ۵۰ آرد کیلو، ۶.۲۵۰ کیلو نخود، ۴.۵۵ کیلو روغن، نیم کیلو نمک، ۱.۵ کیلو پلمپی و ۳ کیلو سوپر سریال توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان کار پاک‌کاری یک سیلبر را در ولسوالی ارگو آغاز کرد




به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، کار پاک‌کاری یک سیلبر در قریه کزر ولسوالی ارگو را به هزینه ۲۹۹,۴۷۶ افغانی و با طول ۲۴۲ متر، عرض ۵.۵ متر و ارتفاع ۱.۵ متر بتاریخ ۸ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق آغاز کرد.

در مراسم افتتاح این پروژه، مولوی محمد اکرم اکبری، رئیس اداره آمادگی مبارزه با حوادث، به همراه شماری از مسئولین محلی و مردم منطقه حضور داشتند.


قابل ذکر است که هدف از پاک‌کاری این سیلبر، حفاظت از خانه‌های مسکونی، زمین‌های کشاورزی و سایر تأسیسات عمومی در برابر خطر سیلاب‌ها است.

ساکنان منطقه اجرایی شدن این پروژه را یکی از نیازهای اساسی مردم قریه دانستند و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث قدردانی و تشکر کردند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا برای ۳۰۰ خانواده مستحق مواد غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا، پس از انجام سروی، بتاریخ ۸ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۳۰۰ خانواده آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در ولسوالی تگاب آن ولایت، مواد غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، برای ۱۷۰ خانواده به هرکدام یک بوری ۲۵ کیلویی آرد، ۱۰ کیلو برنج، ۵ لیتر روغن، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای سیاه و یک جوره لباس و برای ۱۳۰ خانواده دیگر به هرکدام یک بوری ۵۰ کیلویی آرد، ۱۰ کیلو برنج، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای سیاه و یک جوره لباس توزیع شد.




## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې



د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د واما ولسوالۍ ۱۸۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۸ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره او نیم کیلو چای وویشل شول.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۵ کورنیو ته نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM, WFP, UNICEF, UNFPA, ADNO او INTERSOS سازمانونو په مالي ملاتړ، د دې ولایت د مرکز او بېلابېلو ولسوالیو ۱۵۵ مستحقو کورنیو ته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۹ نېټه نغدې او خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، د IOM سازمان له خوا ۸,۵۰۰ افغانۍ، د INTERSOS موسسې لخوا ۱۱,۰۵۰ افغانۍ، د WFP لخوا ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړي، ۲ کیلو مالګه، ۲۵ کیلو دال، ۲.۱ کیلو بیسکیټ، یو اندازه WSB او LSB مواد، د UNICEF سازمان لخوا یو هایجن کیټ او د اوبو د تصفیې ټابلیټ، د ADNO موسسې لخوا یو ژمنی کیټ او ۳ تختې شړۍ او د UNFPA سازمان لخوا یو عدد حفظ الصحي کیټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه چند پروژه وقایوی را تکمیل و به بهره‌برداری سپرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت چندین پروژه وقایو را جهت کنترول و جلوگیری از سیلاب در شهرک مهاجرین و ناحیه هفتم شهر بتاریخ ۹ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق تکمیل و به‌بهره برداری سپرد.
این پروژه‌ها بر اساس پیشنهاد آن ریاست و منظوری اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، با همکاری ماشینری کمیته بازسازی ولایتی و با بودجه سه صد هزار(۳۰۰,۰۰۰) افغانی تطبیق گردیده است.
در چارچوب این پروژه‌ها، اعمار ۳۲۰ متر کانال و بند خاکی دارای ۲.۵ متر عرض و ۳ متر عمق؛ ۸۰ متر بند خاکی ساده با ارتفاع ۱.۵ متر،؛پاک‌کاری ۱۲۰ متر کانال در شهرک مهاجرین و همچنان اعمار ۱۵۳ متر کانال با عرض ۳ تا ۴ متر و عمق ۱ تا ۲ متر در ناحیه هفتم شهر فراه تکمیل شده است.
مسئولان هدف از تطبیق این پروژه‌ها را کاهش خطرات ناشی از سیلاب‌های فصلی و حفاظت از باشندگان مناطق یادشده عنوان نموده‌اند.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په مرکز اړوند د سیند د بیستر د پاکولو چارې پیل کړې



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مرکز اړوند په بسراق سیمه کې د تېرو سیلابونو له امله له خاورو او ډبرو څخه د ډک شوي سیند د بستر د پاکولو چارې د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۹ نېټه پیل کړې.
د یاد سیند د بیستر د پاکولو چارې د پنځمې پلې لوا د ماشینرۍ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لخوا د تیلو د خریدارۍ لپاره د (۱۵۰،۰۰۰) یو سل او پنځوس زره افغانو په لګښت سره پیل شوې، چې په پاکولوالي سره به یې د سیمې اسېدونکي له ګڼو ستونزو څخه خونديې شي.
د یادونې وړ ده، چې سیمه ییزو اوسیدونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس او د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه د دوی دې ستونزې ته د پر وخت رسېدنې له امله مننه او قدرداني وکړه.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان به ۱۳۲ خانواده کمک نقدی توزیع نمود




براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه حمایت از کودکان (Save the Children)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۹ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۱۳۲ خانواده مستحق مربوط ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان مبلغ ۱۲،۶۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ یک میلیون و ششصد و شصت‌وسه هزار و دوصد (۱،۶۶۳،۲۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود.

در پایان، خانواده‌های دریافت‌کننده کمک ضمن ابراز قدردانی از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه Save the Children، خواستار ادامه چنین کمک‌ها گردیدند.

## عامه پیغامونه :

12. د خپل توان او طاقت سره سم اوبه مدیریت او مهار کړئ ترڅو د سېلاب او وچکالۍ د خطرونو څخه ځانونه او مالونه وژغورې
13. داحتمالي سیلاب راوتلو په سیمو کې د ودانیو له جوړولو څخه ډډه وکړئ
14. د سیلاب زور او قوت ته په کمه سترګه مه ګورئ
15. مخکې تر دې چې ستاسو ځمکه یا باغ سیلاب یوسې استنادي دیوالونه ورته جوړ کړئ